# د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| دپریکړې شمیره: | ۳۳- ۱۳۸۹ |
| موضوعګاني: | - د ننګرهار ولایت په ځینو رای اچوني مرکزونو کې د امنیت شتون او نه شتون.<br>- غوښتونکو ادارو ته د باور لیکونو ورکول. |
| سرچینه: | د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست. |
| وخت،تاریخ او د ملاقات ځای | د ۱۳۸۹ل کال د وږي ۱۶ چې د ۲۰۱۰ز کال د سپتمبر له ۷ نیټې سره سمون خوري. د ټاکنوخپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي: | ښاغلی فضل احمد معنوي، ښاغلی سترجنرال ایوب اصیل، ښاغلې مومنه یاري، ښاغلې مستوره ستانکزی، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي. |

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت د اساسي قانون ۱۵۶ مادې پراساس.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون پر اجندا کې د دخیلو موضوعګانو پر هکله پریکړه کړې:

۱. د ننګرهار ولایت د ملکي او نظامي ارګانونو ترمنځ د پریکړې پر اساس د ننګرهار ولایت د رای اچوني د (۸۱) مرکزونو د امنیت ارزیابي کولو وروسته کیدای شي ټاکنې تر سره نشي او دغه مرکزونه باید وتړل شي. د توکود لیږد پروسه او د ټاکنو د ترسره کولو ټول فعالیتونه په دغه مرکز کې د کارکوونکو ګمارل اود هغو د زدکړه باید بند کړل شي،او همدارنګه په ۶۵ مرکزونو کې چې هلته بې امنیتي ده د هیواد د امنیتي ارګانونو څخه دې وضاحت وغوښتل شي.

۲. د څرګندو اسنادو په نظرکې نیولو سره دې د لاندې ذکر شویو ادارو ته دې باور لیکونه ورکړل شي.

- ARD German TV د نړیوالي څارونکي ادارې په حیث.
- Los Angeles Times د نړیوالي څارونکي ادارې په حیث.
- The guardian د نړیوالي څارونکي ادارې په حیث.
- NPR News د نړیوالي څارونکي ادارې په حیث.
- Mc clatchy Newspaper د نړیوالي څارونکي ادارې په حیث.
- د ZDFخبري شبکه د نړیوالي څارونکي ادارې په حیث.

۳. په افغانستان کې د یوناما میشت کارکوونکو ته چې نومونه یې د دغه پریکړه لیکونو سره یوځای دي د رای مرکزونو او محلونو کې د ځانګړو میلمنو په حیث دې ورته کارتونه وویشل شي.

۴. د ټاکنو په ورځ د څارونکو ادارو په لست کې د کابل ولایت ولایتي شورا دنه موجودیت له کبله شریف الله داد ته چې ددې شورا منشي دی د څارونکو کارت نه ورکول کیږي.